صلاح الدین سعیدی
۲۰۲۱/۰۱/۱۳

# څوک مو ړنګول غواړي او څنګه؟

د سیاست الفباء د ګټو او مصالحو خبره ده چې په سیاست کې کارونه اومواضع په همدې اصل تنظیمیږي. په سیاست کې دایمی دوست او دایمی دښمن نه شته، د ګټو خبرې دي او لا تراوسه کومه بله اختراع نه شته او د پورتنیو اصولو او قاعدو پر بنیاد نه شوني نه ده، نو د پورته بنیادی او ضروري سوال ځواب هم کوم ګران کار نه دی.

د افغانستان د ړنګولو، د نظام او د معینو افرادو د له مینځه وړلو او شهیدانولو، د چسپکي ماینو او ترورنو د کولو او په دوحه او قطر کې د سولې د مذاکراتو تر نامه لاندې او په مختلفو داخلی او بهرنیو مناسباتو د پورته شومو اهدافو او موخو لپاره منظم او سیستماتیک کار تول او تول په بنیادي ډول داخلی او بهرني لاملونه لرل، لري، وه او دي. همدارنګه په څرګنده ویل غواړم چې د دې حالت او بحران د وتلو لارې هم ددغو حقایقو او د دې واقعیتونو او معتبرو قانونمندیو په منطق او رڼا کې لټول او د هغه منطق عامول او د حل لارې په داخل او بهر کې د همدغو اصولو په نظر کې نیول سره لټول په کار دي. داچې بهرنیو لاملونو ته ګوته نیساو ذکر یې کوو دا په هیڅ صورت د دې مانا نه لري چې ځان خوشاله کړو او ځان ته برائت ورکړو چې د حل لارې زما له توانه پورته دي او د « شولې ته بخور و پردې ته بکوا!» موقف اختیار کړو. دا درسته نه ده چې د دې موضع په تأکید، دا چې داحالات زمونږ له توانه اوچت او په دغه پلمه ترور او دښمن د مکارې او نامردې تورې تیغ پرما برابر نه شي، ځان غلی کړو چې ښکارې بو شمیر همدا لار غوره کړې ده.

ژوند لنډ او د رسالت اداء وجیبه ده، اختیار زمونږ او ستاسو!

بیرته اصلي پوښتنو ته چې څوک مو بیا ړنګول غواړي، ولې او څنګه؟

بهرني لاملونه: هغوی چې د افغانستان اوبه، بند، برق، لرګي، ځنګلونه، معدن، سرک، مواصلات، بازار او... په وریا او یا د شلغمو په تول او بیه وړل او وړې هغوی غواړي چې افغانستان کې نظام او اداره ړنګه او مشخص افراد ترور او له دندو لیرې او یا ترور شي. انفجار، انتحار، استحمار او خرابکارۍ هم په همدغه استقامت د سیاسي حرکتواو پوځي، جګړه مارو افغاني حلقو تر نامه لاندې او په مستقله توګه د روا او ناروا انګیزو تر نامه او بهانې لاندې تر سره کیږي. روا مو وویلې داچې د تروریست او جنایت کارو بو شمیر متفکر مغزونه هم وایي او ګویا راوړې چې وطن اشغال دی او وطن کې جرم او جنایت روان دي او حاکمیت کې دغه او هغه تخلف کیږي نو د دوی کړه هم توجیه، مبرر او مجوز لري یعنی چې هلته ملت بل تباه کوي او وژني او دلته زه یې انتقام اخلم. خو عمل کې هغه یې هلته وژني او تباه کوي او دلته یې دا بل د انتقام تر بهانې لاندې بیا هم وژني. د جرم مقابل کې د بل جرم او ناروا غلط او جرمی کار وه او دی. هو همداسې ده بوشمیر تروریستان او ناپوه ساده ګان عمل کې د ترور او د تروریست او جنایت په کولو، په


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

عمل کې کاملاً ناروا وژني، قتل او ترور ته منطق وړاندې کوي او کاروي. دا منطق چې هغه يې هلته بمباردمان کوي او زه يې دلته بس، ترانسپورت او موټر ته انفجار ورکوم. دا منطق حرام، شوم ، مردود او ناروا منطق دی چې د قبول وړنه شي کېدای. که مو دا ومنله چې هغه وژني نو زه هم وژنم. نتيجه او پايله چې دواړه په عمل کې بی گناه انسان وژني. ترور، انفجار او انتحار دی، کوم چې په لسهاو بی گناه انسانان په عمل کې وژل شوي او وژل کيږي او دا په هيڅ صورت مبرر، توجيه او جواز نه لري. جنايت کار جنايت کار دی

او د ملت او الله (ج) په نزد، د سالم وجدان په ضد ټول مواخذه او مردود دي. جنايت جنايت دی او هغه ته بايد جنايت وويلای شي او دې ته روا ويل، ناروا ته روا ويل دکفر تر سرحده رسي. دا حرامه او ځان غولونه هم ده چې ستره الهی مواخذه لري.

ددې جناياتو او د افغان ملت د تراژيدی په برخه کې په لومړي سر کې پاکستاني استابلشمنت او ايراني منابع ولاړې وې او دي. روسي، امريکايی او نورې نړدې او ليرې لاملونه هم په خپل وار ځانته ځای لرل او لري. د چوکۍ، زور او زر نوکران، مغرور او ناپوهه چارواکي هم خپله ونده دغه حالت کې لري. چې ډېر ځلي او په بنيادي ډول د غلطو محاسبو او مواضعو په پايله کې بشريت ته د خدمت پر ځای د شرارت او بدۍ موجب شوي او د سترو دوکو ښکار شوي او لا دي.

**داخلي لامونه او کړی:** هغوی چې په تېرو ځلورو لسيزو کې د ب ۵۲ تر سيوري لاندې په مليارډو ډالرونه او فرصتونه د حماقت او يا په عمدې ډول ضايع کړل او د دې پرځای چې په ښه توگه د ملت او وطن په گټه يې استعمال کړي، حيف او ميل او د بنيادي کارو پر ځای په زرق او برق مصرفوی او خپله او د هغو بهرنيو شريکانوسره چور او اختلاس کوې چې يوه نمونه يې د کابل بانک ده. د ماهي نيولو پر ځای د غرمې ډوډی باندې مصرف شوې. د شته لمر او اوبو نه د گټې أخيستو او د برق د توليد پر ځای برق وارد کړای شو. دوی ايراني پيسې کڅوړو کې واخيستې او د غلطي دولتدارئ په چوکاټ کې فرصتونه ضايع او وطن يې خوار وساته او ملت يې نور هم ذليل او بيچاره کړ. ديموکراسي او د بيان آزادي په فحاشت، د وطن د عزت بې عزتي او داسې نورو مبتذلو اعمالو او کړو خلاصه کړای شوه. آزاد بازار اقتصاد يې ہوازې د عرضې او تقاضا او د پيسو پر اصل بنياد عملي کړ. ديموکراسی او آزاد بازار د بازار اقتصاد د قانون له حاکميته پرته او د ټولنې د انکشاف د سطحې او کچې د نظر کې نيولو پرته مردوده او ناکام ده، او افغانستان ته هغه آزادي راوستلې شوه چې سل کاله مخکې نړی کې وه او اوس د قانون تر نظارت لاندې تر ډېره کچې مهار شوې. په ټاکنو کې د مخدره موادو او جنايت پيسې کارول مشروع رقابت نه دی .

اوس نو هغه افراد چې دې وطن کې عدالت غواړي، د شوو تخلفاتو محاکمه غواړي، د افغانستان د اوبو، برق، لرگي، معدن، سړک، خاورې او بازار درست د قانون حاکميت غواړي، د عامه مځکو د غصب بيرته راگرځول او د ناروا او غير قانوني بلډنگو نړول، د کابل بانک د غلاوو مستردول او واپس حصول او باډيگاردانو لگښت بوديجه څه پورته له ځلور مليارډو نه يونيم مليارډو ته کښته کول غواړي، پراوبو او برق، ځنګل او لرگي ملي نظارت غواړي او ... درست استعمال غواړي او ورته برنامه لري بايد د شرارت ، داخلی او بهرنيو متخلفينو په گډو هڅو او همکاريو او ناروا هڅو مات او له منځه يوړل شي او د دې له پاره د شرارت کړيو ټولې هڅې شريکې کړي او له هرو امکاناتو استفاده کيږي او ښکاري دا لړی په بريا توگه درجه په درجه، پلکه په پلکه پر مخ ځي. زمونږ منورين هم ورته رقي رقي گوري خو شوله ات را بخور، پرده ات را بکن، موقف غوره شوای. سادگان بيا د خپلو ملي او وطنی گټو په مقابل


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

کي کاروي او صادق انسانان بی موراله کوي او د بی اعتقادی خواته وړي. په دغه پروسه کي د افغان حاکمیت نیمګړتیاوې او خلاوې د دغې پروسې د تشدید موجب ګرځي او ددې حالت یو ستر لامل بیا بې کفایته او متخلف چارواکي هم دي.
داچې ټول داخلی او بهرني ساده، مکار، احمق، جنایت کاره ډلې او مراکز په هغو حکومتی چارواو او هغه ملي کړیو تمرکز کړای او ورته د مختلفو لارو موانع ایجادوي او د نظام د ړنګولو هڅې ګړندی شوي او سیاسی حماقتونو زور کړای لاملو یې همدا بهرني، داخلي او بیا د نظام په داخل کي د شته تخلفاتو وجود هم دی.
مونږ ته په کار دي چې موجود نظام او سیستم کي تخلفاتو او ، د تېروتنو ته په ښکاره ګوته ونیسو، اصلاحي طرحې او منطق یې عام کړو او په ښکاره او ځغرده د نظام او سیستم د ړنګولو مخالفت وکړو.
هو جمهور رئیس د خپلو صلاحیتونو د اعمال لپاره د هر چا سره مشورې کولای شي ( د اساسي قانون ۶۵ ماده)، دا د دوی حق دی او د جمهوریت او امارت په هکله تصمیم او پریکړه په دغه فرمایشی ناستو ولاړو که نوم یې لویه جرګه هم کېښودل شي او د اساسی قانون لویه جرګه نه وي، مشروعیت او مشروعیت مرجع نه ده او نه شي کیدای. اوس اوس د یو فرد او یو وګړي یوی رأیې عصر دی. ملا، عالم ، روحانی متفکر مکلفیت لري ملت ته د هغه په پریکړه کي رهنمایي وکړي خو دهغه د انتخاب حق له هغه نه شي اخیستلای او هغه د انتخاب له حقه نه شي محروومولای. دا او لسهاو داسي نورې تېروتني او دوکې د منلو نه وې او نه دي.
و ما علینا الا البلاغ المبین
داکتر صلاح الدین سعیدی
۰۰۴۴۷۸۸٦٤٧٤٦٣٨
۲۰۲۱/۱/۱۳



[د صلاح الدین سعیدی نورو لیکنو لپاره، پر عکس وکړی]


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com